## د ملا عبدالسلام اشېزي په شاعري کښې د پښتني ټولني د ناوړه (غېر شرعي) دودونو يادونه

**Un-Islamic Rituals Of Pashtun Society Criticized In The Poetry Of Mullah Abdul Salam Ashezai**

(Author: Dr. Abdul Ali Achakzai)

**Abstract:**

*Mullah Abdul Salam Ashezai used to be great reformer of his age. He openly Challenged and resisted against the then British govt and its politics. He was of the view that Pashtuns were also responsible for their miserable condition because of not following Islamic orders wich its spirit and act upon un-Islamic rituals. The author of this paper sharing Mullah Abdul Salam Ashezai thoughts through his poetry and also extracted its authenticity according to Quran and sunnah.This paper discusses all those unlawful rites if Pashtun society wich reason if the downfall of Pashtuns.*

### د دودونو (رسمونو) شرعي حېثيت:

دود يا رسم چې و هغه ته عرف و عادت هم ويل کيږي. هغه رواج او طريقه ده چې په يوه قوم يا علاقه کښې رائج وي، خلګ د هغهٔ سره اشنا وي او په هغه قوم يا علاقه کښې د يو رواج په ډول منل او لمانځل کيږي. عرف و عادت يا رسم و رواج د اسلامي شريعت يوه اهمه ماده يا ماخذ دی، لکه څه رنګه چې شاه ولی الله ليکي:

هي مادة شريعة (1) دا يوه شرعي ماده (ماخذ) دی.

په يوه بله موقعه باندې شاه صاحب داسې فرمائي:

نهی رسول اللهﷺ عن الرسوم الفاسده وامر بالصالحة (2).

نبي کريمﷺ له ناوړه رسمو څخه منع وکړه او د ښو رسمو د قبلولو امر يې وکړئ.

په هره ټولنه کښې چې کوم عرف و عادت یا رسم و رواج وجود لري، شریعت هغه تسلیموي او بلا وجه هغه نه ردوي. خو دغه رسمونه یا دودونه هغه وخت معتبر منل کیږي چې:

(1) هغه رسم و رواج د قرآن او د سنت د حکم خلاف نهٔ وي.

(2) هغه رسم و رواج په هغه ټولنه کښې غالب وي، یعني په اکثرو خلګو کښې وجود ولري او د دې مخالف ډېر کم وي.

(3) هغه رسم و رواج د غیر مذهب والاوو سره مشابهت و نهٔ لري.

بهرحال اسلام داسې رواجونه او دودونه برقراره ساتلي دي چې د یو نص شرعي یعني قرآن و حدیث خلاف نهٔ دی. مثلاً په قرآن حکیم کښې یو ځای راغلي دي چې تاسو لمونځ کوئ نو پوره ښایست خپلوئ. حکم دی:

خذوا زینتکم عند کل مسجد (3).

یعني د هر لمانځهٔ په وخت کښې خپل پوره ښایست خپلوي.

په دې باره کښې د فقهاء کرامو اتفاق دی چې د لمانځهٔ ادا کولو پر وخت به د انسان دپاره چې څومره ممکنه وي مکمل لباس دي واغوندي. که څهٔ هم لمونځ په بنیین او لنګ اغوستلو سره هم ادا کیږي. خو داسې کول د لمانځهٔ د ادب خلاف عمل دی. د لمانځهٔ پوره ادب و احترام هم دغه دی چې د لمانځهٔ ادا کولو یو وخت لباس مکمل وي. اوس مکمل او زینت والالباس په مختلفو علاقو او قومو کښې مختلفه راغلي دي. خو زمونږ په پښتني ټولنه کښې مکمل او د زینت لباس سر پټول او قمیص و پرتوګ اغوستل بلل کیږي. خو په

نورو قومو او ټولنو کښې بیا مختلف لباس وي. بهرحال شریعت پر مونږ باندې څۀ داسې حکم نۀ نافذوي چې د لمانځۀ پر وخت دې لمونځ ګزاره څۀ خاص لباس اغوستی وي. خو شرط او ادب او د احترام تقاضا دا ده چې هغه لباس مکمل او د ښت والاوي، که څۀ هم په هر شکل کښې وي.

یو بل مثال: دغه رنګه زمونږ په پښتني ټولنه کښې دا رسم و رواج دی چې د اختر په ورځ مونږ یو و بل ته (او خصوصاً بیا د لمانځۀ وروسته) د اختر مبارکي ورکوو او باقاعده د غېږې روغبړ سره کوو. که څۀ هم په اسلام کښې مصافحه او معانقه کول یو سنت عمل دی، لېکن خاص په دغه موقع باندې دغه عمل په اهتمام سره کول څۀ شرعي حکم نۀ دی. لېکن دغه عمل د شریعت خلاف هم نۀ دی. نو ځکه شریعت پر دې باندې څۀ پابندي هم نۀ لګوي.

خلاصه دا چې اسلام دغسې دودونه یا رسمونه برقراره ساتلی دی چې د قرآن و حدیث خلاف نۀ وي. لېکن د هغه ټولو دودونو او رسمونو د ختم کولو حکم په کړی دی چې د هغه په وجه سره په انساني ټولنه کښې خرابي راځي. یا چې هغه د قرآن و حدیث خلاف وي یا چې د هغه په وجه سره د یو چا حق تلفي راتللی شي. د دغسې ناوړه (غیر شرعي) دودونو او رواجونو د ختمولو دپاره په هره زمانه کښې مصلحین او مبلغین راغلي دي. مثلاً زمونږ په دغه سیمه یعني برصغیر پاك و هند کښې د دینِ الٰهي (اکبري) د ختم کولو دپاره حضرت مجدد الف ثاني الله تعالیٰ پیدا کړ. دغه رنګه حضرت شاه ولی الله، مولانا اشرف علي تهانوي او رحمان بابا په دې ټولنه

کښې پیدا شوي دي چې د خپلو اشعارو په وسیله سره یې په پښتني ټولنه کښې رائج د ناوړه او غیر شرعي رسمونو او دودونو خلاف اواز پورته کړی دی. په دې حقله د ملا عبدالسلام اشېزي د جدوجهد څهٔ تفصیل لاندې وړاندې کیږي.

## د ښځو په حقله ناوړه دودونه:

زمونږ په پښتني ټولنه کښې په اکثرو ځایو کښې د ښځو په حقله داسې ناوړه او غیر شرعي رسمونه وجود لري چې په هغه سره د ښځو حق تلفي راځي. مثلاً و ښځو ته په میراث کښې برخه نهٔ ورکول کیږي. و دې ته خصوصاً و کونډو ته په خپله مرضي سره د نکاح کولو اجازت نهٔ ورکول کیږي او ښځه د یو مال میراث په ډول بلل کیږي او دوئ له تعلیم څخه محرومه ګرځول کیږي او څهٔ داسې نور رسمونه اسلام و ښځو ته پوره حقوق ورکړي دي. مثلا د نکاح په حقله دا ایت:

او په تاسو کښې چې څوك وفات شي او هغه د خپل شا کونډه پریږي نو هغه لره په کار دی چې څلور میاشتې او لس ورځې نکاح نهٔ وکړي بیا چې دا موده ختم شي نو بیا په تاسو هیڅ ګناه نشته. که چرې دي د خپلو ځانو دپاره فیصله وکړي.

دغه رنګه د میراث په حقله ارشاد دی:

الله تعالیٰ تاسو ته د خپل اولاد په باره کښې حکم درکوي چې د یو نارینه برخه د دوو ښځو د برخو سره برابره ده او که فقط ښځې وي

(دوې) يا د دوو څخه بالانو د دې دپاره دوې دربيمې دي. له هغه ماله څخه چې دی په پرېږدي او که ښځه يوه وي نو دې لره نيمه برخه ده".

او د تعليم په حقله نبي کريمﷺ داسې ارشاد فرمائي:

طلب العلم فريضة على كل مسلم و مسلمة (6).

د علم طلب کول پر هر مسلمان نر او ښځه فرض دی.

او د مهر په باره کښې: و اٰتوا لنساء صدقٰتهن نحلة (7).

د دې تعليماتو بر خلاف زمونږ په ټولنه کښې چې د ښځو په حقله کوم رواجونه دي هغه ملا عبدالسلام داسې بيانوي:

يوې پېغلې ځوان سړي لره په خوښه
په نکاح ورکړئ خپل ځان عند الشهود
نو د دې سکه تربرونه مرور شو
په دوزخ کښې ظالمان غواړي خلود
حبشيانو د ماينې دعوه په وکړه
دوا څۀ پېژني ګبر و يهود
نو د شپې چپاؤ په زور د موره يو وه
هی ارمان که چليدلی وای حدود
حراميان باندې پيره وو خواري ساندې
غلبلې نارې وهلې يا ودود (8)

د کونډو په حقله په "طلبِ مذهب" کښې داسې وايي:

بــــل امـــي ۇ د تبنـــي :: حـــق بــــه وايـــم خـــداى وينـــي
مــــا لــــه راغـــى بـــې ادبـــه :: نــــاخبره د مذهبــــه
دا قصــــه يـــې كــړه اغـــازه :: چـــې يـــو پـــلار لـــرم اســـتاذه
زمـونږ مـور مـړه شـوې بـې مـاينې دى :: خـوار د بلـې زمـانې دى
ســكه زمـــا د اكـــا لـــور ده :: خلاصــه كونـــډه د تربـــور ده
كــــه و دۀ تــــه دا روا ده :: تـــر پيغـــور پـــورې حلـــوا ده
چـــي ماينـــه يـــې كـــړي محتاجـــه :: و تـــاى نـــۀ شـــو د رواجـــه (9)

بل ځاى ليكي:

حــــق د ښـــځو ځــــه راز خــــورو مـــــونږ
پـــــه قـــــرآن بــــاور لــــــرو مــــــونږ
خرڅـــــــوو لــــــونې او خونـــــــدې
لامـــــو غــــــاړې نـــــۀ دي بنـــــدې
ځلــــــه وړو كونـــــډې خــــــوارانې
لكــــــه عـــــــين كـــــــافرانې
نــــو پــــه زور د چـــا مـــاينې شـــي
لنګــــي دغــــــه پينــــــتنې شــــــي
چـــــــي ســــــبا د دوئ عيـــــــال وي
پـــــه ځـــــۀ قســـــم بــــه حـــــلال وي
كــــــه ميـــــراث دى كــــه ولـــــور دى
يــــــا د ښــــــځې ځــــــۀ زيـــــور دى

لاس ور ورسوي غل دا
مردار خوري لکه عسل دا
دا خوږه پر کونده مینه
بل څه نه دی بې ناورینه (10)

په سوسن چمن کښې لیکي:

بې نکاح کونده بیا یې وژني
که فاجر د مړۀ تربور وي که کاکا سخت (11)

دغه رنګه لیکي:

که د ورور کونده یا بله د تربور وه
دا خو غواړي که ایمان ولاړی که سر ځي (12)

**د اهل القبور زیارت ته تګ کول:**

زمونږ په ټولنه کښې یو غلط رسم و زیارتو او هدیرو ته تګ کول دي. که څۀ هم د اهل قبور زیارت کول یو جائز عمل دی لیکن د دې طریقه دا ده چې کله کله سړی و دغه مزاراتو ته حاضر شي او څه چې توفیق وي، ذکر او اذکار او د قرآن تلاوت دي وکړي او ثواب دي مړي ته وبخښي او خپل مرګ دي یاد کړي. لیکن نن سبا پر دغه

زیارتو باندې ناوړه او غیر شرعي رسمونه ادا کیږي نو ځکه خصوصاً د ښځو تګ و هدیرو او مزارو ته تګ یو ناروا عمل بلل کیږي. د دغه رسمونو په حقله ملا عبدالسلام اشېزی داسې وايي:

بخمل واغوندي په ښځو
لاس ور سرۀ کړي په نکريځو
نو زيارت له شي روانه
لکه ناوې ښځه ځوانه
بيا ځانګو وکړي په شخته
يعني زوئ غواړي کمبخته
ځنې وايي چې پېريان دي
چپه سترګې بد شيان دي
لېونې واچوي ځان دا
خپل ايمان ښندي ارزان دا
سپېره ګرځي کله کله
د يوه پيره تر بله
خو د دې پېريان چې وايي
هغه تګ لره دا بيايي
د زيارت منده ملنګ وي
ناست د دې سره پر ځنګ وي
په کلا عبدالله خان کښې
نۀ شته دا حال په نن زمان کښې

زيـــــارت څـــــۀ کـــــوې مېلــــــه ده
و حرامـــــــو تـــــــه حيلـــــــه ده
دا چـــــې ښـــــځې و اميـــــان اوس
وړې زيـــــارت لـــــه څـــــۀ شـــــيان اوس
نـــــذر خـــــاص د مـــــړۀ دپـــــاره
پـــــه دې ډېـــــر دی ګنهګـــــاره
يـــــا خـــــو تېـــــل دودوي د څـــــراغ دوی
يـــــا نـــــو پســـــونه بيـــــايي چـــــاغ دوی
کـــــړه را جـــــوړ زمـــــا رنځـــــور دا
زۀ بـــــه زر درکـــــړم ضـــــرور دا
نـــــذر بـــــس د شـــــېخ دپـــــاره
کـــــه څـــــۀ پســـــۀ وي کـــــه کلـــــداره
قطعـــــي، بېخـــــي باطـــــل دی
لاد کفـــــر وهـــــم بـــــل دی
کـــــه درلـــــود دا اعتقـــــاده
چـــــي کريـــــاب وم راکـــــړي مـــــراد ده
ګنـــــه پرېـــــږده نـــــو کـــــافر دی
حـــــال پـــــر دا صـــــحفې ظـــــاهر دی
کـــــه پـــــه قبـــــر ښـــــځې ژاړي
بېرتـــــه وصـــــل د مـــــړۀ غـــــواړي
دا مشـــــهور د دوئ عـــــادت دی
ورډ د قهـــــر د لعنـــــت دی

چـــــي زيــــــارت لــــــره ځـــــۀ وروړي
نـــــو کـــــه پســــــونه وي کـــــه زر وي
دا وروړي ټينــــــــــــګ حــــــــــرام دی
پـــــه اجمــــاع د کـــــل اســـــلام دی (13)

3: **د وادۀ ځنې ناوړه رسمونه:**

د وادۀ ځنـې نـاوړه رسـمونه چې زمـونږ پـه ټولنـه کښـې وجـود لـري. د دې په خولۀ ملا عبدالسلام داسې وايي:

امـــي چـــې رنـــګ خرڅـــوي پنـــاوي زر زيـــات
يـــاره نـــۀ بـــه وي تـــر دۀ شـــا تـــوري خـــر زيـــات
ځلـــور ســـوه روپــــۍ مهـــــر شـــــرعي ؤ
نســــب ووينــــه شـــرف د پيغمبـــــر زيـــات
د جنـــــت شـــــاهدي هـــــم بانـــــدې روا ده
فاطمـــه د نبـــي لـــور نـــور تـــر قمـــر زيـــات

احمـــق څـــوني نغـــده بـــايلي پـــه وادۀ کښـــې
پـــه ورابـــاڼو ســـره وويشـــي ولـــور زيـــات
کـــه د ورا او د خوښـــي قصـــه را واخلـــم

بیـــا اوږدیــړي دا زمــا نظــم مختصــر زیــات (14)

پر مخ داسې لیکي:

زمـــا و چـــاغو پښـــتنو تـــه دا ګیلـــه ده
د لنـــــدن دروازه ولـــــــي را ایلـــــه ده
پیرنګیـــان پـــر ښـــځو د ډیـــره لـــري مینـــه
زمــــونږ دودونـــــه وادهٔ داســــــې میلـــه ده
فســـق خـــوارهٔ پـــه ریـــا څـــو رنګـــه راووزي
د دې کبـــــر عـــــوض بـــــده بدلـــــه ده
پـــه دا ورا کښـــې پـــه ســـوو چرګـــان پخیـــږي
د یتـــــیم ســـــره واجبـــــه وصـــــیله ده
خـــوار مســـکین خـــو خـــالق هـــم مســـتحق بـــولي
تـــا و خـــدای تـــه جـــوړه کـــړې څـــهٔ هیلـــه ده (15)

4: **د نورو قومو (غیر مسلمانانو سره مشابهت پیدا کول**:

یـو رسـم چـې زمـونږ پـه پښـتني ټولنـه کښـې رواج لـري او چـې د هغـه یادونـه مـلا عبدالسـلام اشـېزی پـه خپلـو اشـعارو کښـې کـړې ده. هغـه د نـورو قومـو پـه رنـګ ځـان رنګـول دي. دغـه مشـابهت پـه لبـاس کښـې وي. یـا پـه ناسـته ولاړه کښـې وي. یـا پـه خـوراك، څښـاك کښـې وي یـا پـه یو بل کار کښې. اسلام د دې ممانعت کوي، نبي کریمﷺ فرمائي:

**من تشبه بقوم فهو منهم** (16).

نبي کریمﷺ فرمائي کوم سړی چې د نورو قومو سره مشابهت پیدا کړي، هغه له هغو څخه دی. ملا عبدالسلام بابا په دې حقله وايي:

تر مومن دي د کافر سره ورږ وزي
نو که مخ پر ما راګروې که څټ
لباس خاص کوي خوی هم د مشرکانو
وګوره ته دي رنګ واوښتی کټ مټ
د شناخته خلګو د شرمه مسلمان يې
پر لعين مدعي ميل کوې پټ (17)

**بل ځای ليکي:**

نو بې دينه پټ پر کفر کوي مينه
تر سايې بڼې را وباسي وېښتان هم
دا ځنې ځنې د کفر خصائص دي
زنار شکل د صليب خولی بتان هم
چې د دې رواج کوي هغه دودونه
تو لعنت شه پر مطبوع پر تابعان هم
پردي نن مسلماني بې اتفاقه
انګريزانو لښکر کښلی دی شيطان هم

انګرېزانـــــو پښــــتانهٔ لــــه لارې چــــپ کــــړل
د موسٰـــی پـــه رمـــه کښـــېواتو لېـــوان ســـم (18)

مخ ته داسې لیکي:

ولـــــــي ادوي وسوســـــــې د انګرېزانــــــو
وحـــــي ښــــې دي کــــه ګمـــــان د افلاطــــون
بــــې ایمانـــــه د قرآنـــــه نــــهٔ شــــرمېږې
دوا بــــــولي فرنګـــــــی یښــــــی قـــــانون
پښــــتني غیــــرت انګرېـــــز لــــه لاســــه یـــــووړئ
د کـــــافر تــــر غــــوځې لانــــدې ځـــي ممنــــون
اســــماني اعــــلان خـــو حســـب الامکـــان لولـــو
لاد بــــــل پیښـــــې کــــوي نــــوی پښـــــتون
مشــــــتهر چـــــې اشـــــتهار ســــــهار را باســـــې
د درواغـــــو بانــــــدې اچـــــوي ســـــپرلون
نــــر تــــر ســــا خـــولې پســـر زنــــار تــــر مـــلا وي
پـــــه ځړېــــــږي صـــــلیب واغونــــــدي پتلـــــون
د عبدالســــــلام پنــــــد یوســـــه یزیلــــــه کـــــــه
موسٰـــی لـــوی خیــــر دی تـــا لـــه تـــر قـــارون
مســــــلمان اهـــــل قـــــرآن تـــــر کفـــــر لانــــدې
هــــړ چیچـــــي د پیرنګــــــي مـــــارهٔ دیــــزه نــــن
قــــرآن و نیســــه و خـــــدای تـــه مخـــامخ شــــه

پيرنګـــــى پرېـــــــړده د کفـــــر انجمــــــن
زوم د ښـــــځو پـــــه بــــدلو هــــم نـــــازيږي
پـــر شـــريف صـــوفي ځـــان پـــاك كـــړي خيـــرن
انګرا يـــزان پـــه قـــرآن حـــريم کښـــې اوســـي
مســـتوراتي لـــځ مخـــان ځيـــري پـــړدې نـــن (19)

بل ځاى داسې ليکي:

هـــر لـــوى شـــوى د مېـــډمي پـــه غـــوځي کښـــې
نـــه پـــاکيږي پـــه اوبـــه يـــا پـــه جفـــاف يـــو
و لنــــدن تــــه مخــــامخ عبدالســـــلامه!
هغـــه بيـــا پـــر مکـــه نـــۀ کـــوي طـــواف يـــو
هـــر چـــا چـــې انګريـــزي احکـــام چليـــږي
کـــــافران دي ســـــه فتـــــواوي د جمهـــــورو
پـــــه مـــــنجلس د ګـــــوره ګـــــانو مشـــــرکانو
تاســـــي ولـــــي نـــــۀ شـــــرميږئ مومينينـــــو
دجاليـــان پـــه پيرنګـــي بـــدرنګي خـــوښ دي
قـــرآن نغښـــتى پـــه غلطـــو وايســـطو شـــو
پـــه نـــايي ږيـــرې خريـــي عبدالســـلامه!
لغـــړ زنـــي لکـــه نجـــوني بـــې برېتـــو شـــو (20)

د دنيـــا د ډېـــره حبـــه و کـــافر تـــه
پـــر ځلـــورې نســـکور شـــي لکـــه کِشـــو

پلتيکـــــل و بولهـــب لـــــه نـــــه خښـــميږي
و تربــــره تــــه پــــر نــــۀ څــــۀ وهــــي پېشــــرو
نــــۀ شــــرميږي پــــه دربــــا زنــــار پــــه غــــاړه
تــــر شــــپېته کالــــۀ اوښــــتی غــــاښ کنــــډو (21)

بل ځای و پښتنو ته داسې لارښوونه کوي:

پښــــــتنو د انګرېزانــــــو څــــــه بېــــــل اوســــئ
لــــــره تــــــوره بروســــــه پــــــر نګــــــل نســــــته
عــــذار دوســــت مــــو کــــاږي پوســــت مســــلمانانو
پــــه ګــــوره باطــــل اديــــانو کښــــې خپــــل نشــــته
اروپــــده د حــــق پــــه هــــر ويــــده ضــــرور دی
د عبدالســــــلام بــــــې خيــــــره غــــــزل نســــــته (22)

خلاصــه دا چــې مــلا عبدالســلام اشــېزی پــه پښــتني ټولــه کښــې وجــود لرونکــي د نــاوړو دودونــو او غيــر شــرعي رســمونو ســخته غندنــه کــوي، او و مســلمانانو تــه ترغيــب ورکــوي چــې لــه داســې رواجــو څخــه لاس واخلــئ. پــه اخيــر کښــې د مــلا عبدالســلام پــه دې دعائيــه شــعر ســره خپله مقاله ختموم.

چــــــــې پــــــــه ديــــــــن د محمــــــــد وي
پرهېزګــــــــاره وي کــــــــه بــــــــد وي

هغـــــــــه واړه جنتـــــــــي کــــــــې
مـــــا د دۀ ښــــــۀ امتـــــــي کــــــې (23)

# حوالې


(1) شاه ولی الله، حجة الله البالغه، قديمي کتب خانه، کراچي، س ن، مخ 284.

(2) ایضاً، مخ 285.

(3) قرآن مجید، سورة الاعراف، پاره 7، آیت 31.

(4) قرآن مجید، سورة البقره، پاره 1، آیت 234.

(5) قرآن مجید، سورة النساء، پاره 4، آیت 11.

(6) ابن ماجه، محمد بن زید، السنن، کتاب فی الایمان، 1: 162.

(7) قرآن مجید، پاره 4، آیت 4.

(8) اشپزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن، طبع دوم، کوئټه، اسلامیه پریس، 1964، ص 55.

(9) اشپزی، ملا عبدالسلام، طلب مذهب، کوئټه، عزیز الیکټرک پریس، 1355هـ، ص 18.

(10) ایضاً، ص 347.

(11) اشپزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن، مخ 39.

(12) ایضاً، مخ 288.

(13) اشپزی، ملا عبدالسلام، طلبِ مذهب، مخ 252، 255.

(14) اشپزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن، مخ 40، 41.

(15) ایضاً، مخ 202.

(16) سلیمان بن اشعث، ابی داؤد السجتاني، السنن، لاهور، مطبع مجتبٰی، کتاب اللباس مافی لبس الشهرة، مخ 203.

(17) اشپزی، ملا عبدالسلام، سوسن چمن، مخ 44.

(18) ایضاً، مخ 138، 144.

(19) ایضا، مخ 146 تا 148.

(20) ایضاً، مخ 153تا 158.

(21) ایضاً، مخ 165.

(22) ایضاً، مخ 232.

(23) اشپزی، ملا عبدالسلام، زردانه دُر، ناشر شمس الطالع، 2001ء، مخ 80.